مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی
۲۰۲۴/۰۴/۱۳

# د فتوی په باره کي مختصر بحث

(اووه لسمه برخه)

شیخ عبدالقادر جیلاني یا ګیلاني ۱۰۷۸- ۱۱۶۶
د صوفیانو او تصوف په باره کي د بحث ډېر زیات دوام موږ له موضوع څخه لیري کوي. البته لازمه ده چي د اسلامي نړۍ د یوه له تر ټولو مشهورو شیخانو شیخ محی الدین عبدالقادر ګیلاني د ژوند په باره کي یوه مختصره یادونه وکړو؛ او دا وښیو چي څرنګه افسانو د هغه پر ژوند او اصلي عقایدو باندي اثر اچولی او خلک یې په لوی لاس له اصلي حقیقت څخه لیري کړي او ګمراه کړي دي.
ما پخپله د شیخ عبدالقادر جیلاني یا شیخ ګیلاني آثار چنداني نه دي لوستي. د هغه دیوان یوازي د ۷۴ غزلونو څخه جوړ دی او مالوستی دی یعني د فارسي ادب د صوفي شاعرانو مولنا، سعدي، جامي او نورو په پرتله یې ډېر کم شعرونه لیکلي دي او د کیفیت له مخي یې سړی معیاري شعرونه بللای سي. ما د شیخ عبدالقادر ګیلاني له کتابونو څخه یوازي «جِلا الخاطر» ( د زړه تصفیه، پاکول) لوستی دی؛ او په هغه کتاب کي د شیخ تصوفي افکار راغلي دي خو د ده د عصر د صوفیانو په څېر مبالغي او بلند پروازی نه پکښی لیده کیږي. جلا الخاطر زیاتره پر اسلامي شریعت بنا دی او د شرک او نورو کبیره ګناهونو څخه د ځان ژغورلو او د ذکر او عبادت کولو توصیه کوي. دغه راز د شیخ ګیلاني په یوه بل اثر فتوح الغیب یا د غیب الهامات په نوم کتاب کي، چي ما یې ځیني نقل قولونه لوستي دي، هم د شیخ ګیلاني د عصر او یا له هغه څخه مخکي او وروسته صوفیانو په څېر داسي تصوفي افکار نه لیده کیږي چي له شریعت سره دي څرګند مغایرت ولري.
شیخ عبدالقادر ګیلاني، چي په غوث الاعظم او غوث الثقلین هم شهرت لري، یو ښه عابد، زاهد او واعظ وو. د خپل عصر او له خپل عصر څخه مخکي او وروسته صوفیانو په څېر کفرونه یې نه ویل او د نورو صوفیانو هغه لاپي او له خدای سره د مستقیمو خبرو، الهاماتو او خوبونو خبري چي د ګیلاني په عصر کی رواج وې د ده په دغه کتاب او په هغه بل اثر فتوح الغیب کي نه لیدل کیږي او هه یې ځان، د نویو صوفیانو په څېر، د حق په وجود کي فنا کړی چي د حق په ذات کي به داسي ورک سول لکه څاڅکی په دریاب کي.
شیخ عبدالقادر ګیلاني، د نورو زاهدانو او دیني علماوو په څېر، د دنیا او دولت ذخیره کول د ایمان زوال بولي او لیکي « افسوس د هغو کسانو پر حال چي یوه طلا پربله ایږدي او د دنیا ذخیره کول او حرص یې پای ته نه رسیږي. دغه طلا او پیسي به لړمان او ماران سي او دی به چیچي. د طلاسِکي د اورذخیره کول دي. دا دنیا د اعمالو او مشغولا او هغه دنیا د وېړي ځای دی. دا نو په بنده پوري اړه لري چي جنت انتخابوي او د دوږخ لاره اخلي . . . »
Jila al – Khatir P 157
د دې کتاب زیاتره برخه له بدو څخه د پرهېز کولو، په دنیا پوري د زړه نه تړلو او د آخرت لپاره د توښي برابرولو په باره کي توصیي دي. او کله چي د فنا په باره کي لیکنه کوي نو هم یې روحیه او مطلب له نورو معاصرو شیخانو او وروسته مشهورو شیخانو له لیکنو سره توپیر لري. مثلاً د « فناء » په باره کي چي، زیاتره شیخان یې د صوفیانو لپاره وروستی مقام او ځیني نور صوفیان تر دې هم د لوړ مقام « بقاء» یادونه کویو د شیخ ګیلاني وینا او لیکنه له نورو صوفیانو سره څرګند توپیر لري:
« که ته سم او مناسب سلوک وکړې نو ته به د یقین په سترګو لیدل کوي لکه علي کرم الله وجهه چي وایی که حق متعال نقابونه لیري کړي نو هم به پر هغه باندي زما یقین تر دغه زیات نه سي. کله چي له حضرت علي څخه پوښتنه وسوه چي تا خدای لیدلی دی؟ علي په جواب کي وویل چي که مي لیدلی نه وای نو عبادت به مي نه ورته کولای. له یوه بل صادق او ښه سړي څخه همدغه پوښتنه وسوه هغه وویل چي که مي خدای نه وای لیدلی نو زه به ځای پر ځای مړ سوی وای. که یو څوک زما څخه پوښتنه وکړي چي خدای څرنګه لیدلای سم نو زه به ورته ووایم چي کله سړی له خپل زړه څخه ټول مخلوقات وباسي او یوازي حق متعال ته په زړه کي ځای ورکړي نو هغه خدای لیدلای سي او چي د نبده زړه غواړي په هغه اندازه به خدای ته نیژدې سي. دی به خپل خدای په خپل باطن کي داسي ووینی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

لکه خلک چي يې په ظاهرهويني. دی به خپل خدای داسي ووينې لکه حضرت پيغمبرص چي د معراج په شپه کي خپل خدای وليدی. . . . » Ibid P 147
البته پخپله حضرت رسول اکرم ص هم نه دي ويلي چي حق متعال يې ليدلی دی. د ابوذر له قوله ويل سوي دي چي وايی ما له حضرت پيغمبرص څخه پوښتنه وکړه چي ده خدای ليدلی دی؟ په جواب کي يې راته وويل چي هغه نور دی. زه نور څرنګه ليدلای سم؟ صحيح مسلم، کتاب الايمان حديث ۳۴۱
عبدالله بن شقيق وايي ما ابوذر ته وويل چي که مي پيغمبرص ليدلی وای نو ما به له هغه څخه دا پوښتنه کړې وای چي آيا هغه خدای تعالی ليدلی دی؟ ابوذر راته وويل چي ما له پيغمبرص څخه همدغه پوښتنه وکړه او هغه راته وويل چي ما يو نور وليدی. هغه کتاب حديث ۳۴۲
کله چي حضرت پيغمبرص وايي چي خدای نور دی. زه نور څرنګه ليدلای سم. او يا وايي چي ما يوازي يو نور وليدی. نو حضرت علي يا بل کوم عابد څرنګه د هغه د ليدلو ادعا کولای سي. د حق متعال د ليدلو په باره کي، د شيخ عبدالقادر ګيلاني دا وروستی خبري هم د هغه وخت د نورو شيخانو د افکارو او عقايدو انعکاس دی. او ده پخپله هيڅ وخت د حق متعال د ليدلو ادعا نه ده کړې.
د شيخ عبدالقادر ګيلاني د فتوح الغيب د کتاب په حواله ليکل سوي دي چي دی وايی صوفيانه بصيرت انسان ته د واقعيت په باب داسي معرفت ور په برخه کوي چي هغه د عقل له لاري نه ترلاسه کيږي. ځکه چي صوفيانه کشف او مشاهده د انسان د عقل په قدرت کي نسته. تصوف په مختلفو مرحلو کي د حق متعال جلال او جمال بنده ته څرګندوي. Sharif, A History of Muslim Philosophy Vol 1 P 353
شيخ ګيلاني په دې عقيده دی چي تصوف د بحث او مطالعې نتيجه نه ده بلکه د لوږي، خواری او محروميت نتيجه ده. تصوف يعني سخاوتمندي، په رضا اوخوښي تسليمېدل، صبر او د پرله پسي عباداتو، له مخلوق څخه د ګوښه کېدلو، خرقي اغوستلو، په نړی کي د ګرځېدلو، فقر او تواضع، صداقت او رېښتينولی له لاري له حق سره د تماس حاصلولو نتيجه ده. Ibid P 353
کله چي د شيخ ګيلاني څخه مخکي او وروسته صوفيانو عقايدو ته وکتل سي نو ګورو چي دی سره له هغه چي د تصوف لپاره تبليغ کوي مګر د هغوی له عقايدو سره مخالف دی او زياتره د يوه عابد او زاهد حيثيت لري. د تصوف د عقايدو يو لوی علمبردار شيخ محی الدين ابن عربي دی، چي په مسلمانانو کي، او په تېره بيا هغو مسلمانانو کي چي له تصوف سره خاصه مينه لري، په شيخ الاکبر يا ستر شيخ مشهور دی. که د شيخ ابن عربي ځيني خبري، ليکني او اشعار وکتل سي نو بالکل د کفر درجي ته رسيږي او حتی لا يې سړی مستقيماً کافر او زنديق بللای سي. خو د شيخ ګيلاني په اشعارو او ليکنو کي داسي ادعاوي او ويناوي نسته چي هغه له شريعت سره ډېر لږ توپير هم ولري.
ابن عربي ۱۱۶۵ -۱۲۴۰د خدايي الهام خارجي منابع ردوي او وايی چي په حقيقت کي هر شی خدای دی. دی دا عقيده له توحيد سره مخالفه بولي چي خدای الهام استوونکی او بشر د هغه له لاري د معرفت ترلاسه کونکی وبلل سي. Ibid P 404
ابن عربي په خپلو آثارو کي يوازي د حق متعال وجود، چي دی يې واجب الوجود، بولي مني او نور ټول موجودات د هغه وجود سيوری او ټول پخپله هغه بولي « ستاينه دي وي هغه ته چي ټول شيان يې پيدا کړل او دی پخپله ( عينها) يا هغه دی. Ibid P405
ابن عربي وايی « ليس فی الدار غيرهُ ديار» يعني په جهان کي پرته له هغه بل اوسېدونکی نسته. او وايی چي « لاموجود الاّ الله» پرته له الله بل موجود نسته.
ابن عربي نه يوازي لوی عالم او شاعر وو او خپل عقايد يې، چي مستقيماً د کفر بوی ورڅخه ولاړېدی، په داسي توګه بيانول چي عوام خو لا پرېږده چي خواص هم سم نه په پوهېدل او دغه علت دی چي په اسلامي نړۍ کي اوس هم په شيخ الاکبر مشهور دی. يو شعر يې، چي له عربي څخه انګليسي ته ترجمه سوی او ما په پښتو ترجمه کړی دی، د د ي مدعا ښه شاهد دی:

ته مي هر وخت سي ليدلای زه دي نه وينم خاونده
کله کله دي زه وينم ته مي نه ويني څرګنده
ته ما ويني چي زه هر وخت سم کولای ګناهونه
خو بيا هلته تا نه وينم راکوې چي عذابونه
زه يې وينم را کوي چي له خپل فيضه کومکونه
چي يې فيض په دعا غواړم دی مي نه ويني لاسونه. Ibid p 402
او يا داچي: اې خالقه چي مخلوق دي ټول راجمع کړل په ځان کي
تا را ټول او يو وجود کړ خپل مخلوق په دې جهان کي
هغه لايتنا هي چي تا له خپل وجوده خلق کړ
تا وجود ورته درياب کړ هر څه ورک دي ستا په شان کي Ibid P 410


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

برهان الدين ابراهيم البقايی( وفات ۱۴۵۴) چي د خپل وخت يو لوی متشرع عالم وو ابن عربي په کفري عقايدو محکوم کړی وو. البته دا يوزي بقايی نه وو بلکه ډيرو نورو مذهبی عالمانو هم د هغه د شرک فتوا صادره کړې وه. ابراهيم البقايی د ابن عربی د عقايدو په رد کي دوه بشپړ کتابونه وليکل او يو ځای ليکي:
« ده ځان د خلکو په جامه کړی وو او له دې لاري يې ډېر خلک وغولول. ده خپل دريځ د خلکو پر عقايدو بناء کړی وو؛ مګر په کراره کراره يې هغوی د ګمراهی خواته بېول او خلکو ته يې داسي سوالونه ور پيداکول چي حل يې ګران وو. دی د خلکو په غولولو کي تر بل هر چا زيات ماهر دی. له پيغمبرص څخه يې موثق احاديث نقلول وروسته به يې هغو احاديثو ته داسي تاو ورکړ چي د هر چا سر نه په خلاصېدی. په دې توګه ده خپل ګمراه کړي پيروان د خپل وروستي هدف خواته رهنمايي کول چي د ټولو مذهبی عقايدو ردول دي. د دغه راز عقايدو درلودونکي او حمايه کونکي ځانونه د مسلمانانو په جامه کي پټوي، لمونځونه او نفلونه کوي او روژې نيسي. دوی په حقيقت کي د ملايانو او زاهدانو په خرقو کي راوتلي ملحدين دي. او د صوفيانو په نامه الحاد تبليغوي» Ibid P 407

ځينو ليکوالو او څېړونکو، په غلطه، شيخ ګيلاني د وحدت الوجود د عقيدې پيرو او د همدغي عقيدې ښتن او مبلغ بللی دی او وايی چي د شيخ د آثارو جوهر همدغه عقيده ده. صادقي، پيرګيلان ص ۱۰
د صادقي دا خبره ځکه اساس نه لري چي شيخ ګيلاني نه يوازي وجودي صوفي يا د وحدةالوجود د عقيدې ښتن صوفي نه وو بلکه د حق متعال د ذات په باره کي، چي د وحدةالوجود او حتی وحدةالشهود د عقايدو اساسي موضوع ده، له سره څه ليکلي نه دي.
شيخ محی الدين ګيلاني نه د منصور او بايزيد په څېر د خدايي دعوه وکړه او نه بنده ته په داسي قدرت قايل سو چي د شريعت سره به يې اختلاف درلود. او نه يې هيڅ وخت د کراماتو او الهاماتو دعوه وکړه. هغه که څه هم يو صوفي وو او د قادريه سلسلې موسس ګڼل کيږي؛ خو له ځوانی څخه د عمر تر پايه پوري شريعت ته پابند پاته سو او له هغه څخه د شريعت په خلاف يوه خبره هم پاته نه ده. مګرد هغه په باره کي، د پخوانيو زمانو تر ټولو اولياوو، د کراماتو او خارق العاده کارونو افسانې ډيري دي.
ډېره په زړه پوري خبره دا ده چي د اولياوو په باره کي، په هغو کتابونو کي چي د شيخ ګيلاني له وفات څخه شل ديرش يا حتی ۸۰ او ۱۰۰ کلونه مخکي د اولياوو په باره کي ليکل سوي دي؛ د شيخ ګيلاني نوم قدر هم نه دی ياد سوی. د مثال په توګه د شيخ فريدالدين عطار ۱۱۴۰- ۱۲۲۱ تذکرة الاولياء، چي د شيخ عطار د زماني او له هغه څخه مخکي وختونو د تقريباً ټولو مشهورو اولياوو نومونه راغلي دي؛ د شيخ ګيلاني يادونه نه ده سوې. دا امکان نه لري چي شيخ عطار دي داسی يو مهم پير او مشهور مرشد له قلمه غورځولی يا هېر کړی وي چي په خپله زمانه کي يې شهرت پر ټول عالم اسلام باندي خپور وو. په تذکرة الاوليا کي د شيخ ګيلاني د نوم له نشته والي څخه سړی په زغرده ويلای سي چي د شيخ ګيلاني په باره کي کيسي او افسانې ډيري وروسته جوړي سوي دي. دغه راز په اسرارالتوحيد فی مقامات شيخ ابوسعيد کي، چي د ابوسعيد له وفات څخه ډېر کلونه وروسته او د شيخ ګيلاني د شهرت په زمانه کي ليکل سوی دی، هم د شيخ عبدالقادر ګيلاني نوم قدر ته اشاره نه ده سوې. او تر ټولو عجيبه دا ده چي د ابن جوزي ۱۱۱۶-۱۲۰۰ په کتاب « تلبيس ابليس » کي چي د هغو صوفيانو په خلاف ليکل سوی دی چي د شريعت خلاف کارونه کوي، شيخ ګيلاني ته، د يوه مرشد او پير په حيث بيخي اشاره نه ده سوې. په داسي حال کی چي دا کتاب به د شيخ ګيلاني له وفات څخه لږترلږه ۵۰ کاله وروسته ليکل سوی وي. خو د وروسته کتابونو په حواله لکه « نفحات الانس» او نورو کي د شيخ ګيلاني په باره کي ډيري زياتي افساني راغلي دي. حتی د شيخ سهروردي په عوارف المعارف نومي کتاب کي، چي جامي يې د شيخ ګيلاني شاګرد بولي، هم له شيخ ګيلاني سره د مستقيم ليدلو يادونه نه ده سوې.
شيخ جامی، د صوفيانو په باره کي، په خپل مشهور کتاب نفحات الانس کي ليکي چي شهاب الدين سهروردي له خپل کاکا سره شيخ ګيلاني ته ورغی. د سُهروردي کاکا شيخ ګيلاني ته شکايت وکړ چی زما وراره ټوله ورځ د علم کلام په زده کړه لګيا وي. شيخ ګيلاني د شهاب الدين سهُروردي پر سينه باندي لاس کښېښود. له هغه څخه يې ټول علم کلام هېر کړ او هغه ته يې الهامي علم ورباخښه. جامي، نفحات الانس ص ۵۱۵
مګر پخپله شيخ شهاب الدين سهروردي نه د دې پيښې يادونه کوي او نه يې له شيخ ګيلاني سره د ليدني ذکر کړی دی. يو ځل ليکي چي اورېدلي مي دي چي شيخ عبدالقادر يوه سړي ته، چي ده ته يې ارادت درلود، خپل مريد ور واستاوه او د يوه اندازه پيسو غوښتنه يې ورڅخه وکړه . . . عوارف المعارف ص ۸۲
بل ځای ليکي چي وامي ورېدل چي شيخ عبدالقادر ښه ډېر وخت په دې فکر کي وو چي واده وکړي او کنه؛ خو له دې ويري يې واده کولو ته زړه نه ښه کاوه چي ويل يې واده او کورني مسايل به يې له ذکر او د خدای له ياده څخه وباسي. تر څو چي حضرت رب العزت اجازه ورکړه او ده هم څلور ښځي په نکاح کړې. هغه کتاب ص ۸۷
لومړی خو وينو چي بيا هم شيخ سُهروردي د شيخ عبدالقادر کيسه له اورېدلو څخه کوي او له هغه سره د ليدلو خبره نه يادوي. دوهم دا چي رب العزت هيڅ وخت څوک له واده کولو څخه منع کړي نه دي چي د واده کولو لپاره د هغه اجازې ته ضرورت وي. او که چيري واده سړی له ذکر څخه باسي نو بيا چي اجازه ورته وسوه څلور ښځي يې څرنګه وکړې؟


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

شیخ عبدالقادر گیلاني د خپل پیر او استاد شیخ ابوسعید المخزومي ۱۰۱۳-۱۱۱۹په څېر د حنبلي مذهب درلودونکی او یو متشرع صوفي وو. د هغه عقاید، د نورو صوفیانو په خلاف، له اسلامي شریعت څخه هیڅ ډول انحراف نه مني. شیخ توصیه کوي چې د عابد ټوله تکیه او اعتماد باید پر الله باندي وي او مخکي له هغه چي خلوت ته ننوزي باید چي ځان یې په علم سمبال کړی وي: « هیڅ وخت په ناپوهي کي خلوت ته مه ننوزه ځکه چی په ناپوهي کي خلوت د بنده د بشپړي ګمراهی خطر لري. ځکه نو رسول ص ویل چی یو ځل ځان په علم سمبال کړه او بیا نو له خلکو ګوښه سه. تر څو چي په جهان کي یو څوک لرې چي پر هغه باندي تکیه وکړې نو دا لازمه نه ده چي خلو ت ته داخل سې او له خلکو څخه ځان ګوښه کړې. ته باید یوازي له یوه څخه وبېرېږې او یوازي یوه ته هیله او امید ولرې او هغه الله عز وجل دی. مه په دې دنیا، مه په مخلوق او مه په آخرت پوري زړه تړه بلکه ټوله تکیه دي باید پر الله عز وجل وي. . . » Jila al Khatir P 141
شیخ ګیلاني د دنیا او دولت له ذخیره کولو سره مخالف دی او وایي چي سره زر او پیسي به بالاخره سړي ته لړمان او ماران سي او چیچي به یې Ibid 157
شیخ عبدالقادر ګیلاني، د خپل عصر او له ده څخه مخکي او وروسته صوفیانو د سلوک په خلاف، له زیارتونو او اولیاوو څخه د مرستي غوښتلو سره مخالف دی. په داسي حال کي چي په هغو کیسو کي چي اولیاوو ته منسوبي دي هیڅ ولي دا خبره نه ده کړې. بلکه ټول اولیاء له خپلي زماني څخه مخکي د قدیمو اولیاوو د کراموتونو کیسي کوي او په دې توګه غواړي چي خپل کرامت او ولایت ته د خلکو توجه جلب کړي.
فتاوای رحیمیه د شیخ ګیلاني د مهم کتاب فتوح الغیب د ۱۵۰ مخ په حواله لیکي: « د بلا او مصیبت د دفع کولو لپاره له بنده ګانو څخه مرسته مه غواړه. ځکه چي له بنده ګانو څخه د مرستي غوښتل خدای ته د شریک نیولو معنا لري. د حق تعالی په جهان کي هیڅوک د هیڅ شي مالک نه دی. څوک تاته نه تاوان او نه ګټه در رسولای سي. نه څوک له چا څخه رنځ دفع کولای سي او نه څوک په رنځ مبتلا کولای سي. یوازي حق متعال دی چي انسان ته نجات ورکوي بل څوک نجات نه سي ورکولای» فتاوای رحیمیه دوهم جلد ص ۱۱۰
موږ ګورو چي شیخ عبدالقادر ګیلاني په خپلوکتابونو کي نه یوازي پخپله د کرامت ادعا کړې نه ده بلکه نورو ته هم توصیه کوي چي هره مرسته باید له خدایه څخه وغواړي. خو د نفحات الانس په څېر کتابونو کي او د عوامو په منځ کي هغه ته داسي کیسي منسوبي دي چي نه په عقل د منلو دي او نه د شریعت پر اساس برابري دي. مثلا په ماشومتوب او لومړنی ځواني کي مي په کندهار کي هغه اوږده سندره په یاد ده چي یوه سپین سرې ښځه پیر ګیلاني ته راغله او هغه ته یې عرض وکړ چي څو کاله مخکي یې د زوی کښتی، چي د واده مراسم پکښی روان وه، له ټولو سپرو کسانو سره په رود کي ډوبه سوې ده او دا له هغه وخته له خواشینی څخه خوب نه لري. که شیخ دعا وکړي او د هغې زوی بیرته ورته ژوندی کړي. شیخ چي هر څه عذرونه ورته وکړل ښځې نه منل او په پای کي شیخ دعا وکړه او کښتی له ټولو سورلیو سره له رود څخه راپورته سوه. عجیبه خو لا دا چي په کښتی کي ساز او نڅا لا روانه وه او خلکو داسي فکر کاوه چي اصلاً هیڅ پېښ سوي نه دي. خلکو دې کیسي ته سرونه ښورول. ټولو منل او هیچا دا سوال نه کاوه چي لس هاوو کسانو ته بیرته روح بخښل د حق متعال د ارادې مخالف کار دی او دا یوازي د حق متعال په قدرت کي ده چي مړ انسان بیرته ژوندی کړي او بنده دا وس او قدرت نه لري.
زما هغه سندره هم په یاد ده چي یوه بله ښځه پیر ته په ژړا او زاریو راغله او ورته ویل یې چي د هغې زوی زمري خوړلی دی او دا خپل زوی بیرته ژوندی غواړي:
راغله یوه ښځه دستګیر له سر سرتوره
کوچنی زوی مي زمري راڅخه وړی دی په زوره
ښځې له پیر څخه غوښتل چي د هغې زوی بیرته ورکړي.
پیرویلي ښځې زما به نه وي دونه وس
خوړلی به زمري به وي زه به ورکمه نفس
البته ښځه د پیر په عذرونو او دلایلو قانع نه سوه او پر خپله خبره ټینګه وه چي تر څو د هغې زوی بیرته ورته را ژوندی نه کړي دا به د شیخ له درباره څخه بلي خواته ولاړه نه سي. بالاخره شیخ زمری را وغوښت او د زمري له نس څخه یې د ښځې زوی چي ډېر پخوا یې خوړلی وو بیرته ژوندی ورته را وایست. داسي کیسي به حتماً نوري هم وي او د شیخ په مدح کي دونه قصیدې لیکلي سوي او دونه کیسي جوړي سوي دي چي یو بشپړکتاب کیږي. ما له هیچا څخه هیڅ وخت نه دي اورېدلي چي د شیخ ګیلاني په باره کي دغه راز جوړو سویو کیسو او افسانو په باب یې یوه شبېه هم شک کړی وي. او نه چا جرأت کولای سوای او نه اوس جرأت کولای سي چي هغه ته د منسوبو کیسو په باره کي شک څرګند کړي؛ ځکه چي خلک به یې سمدستي کافر وبولي او که یې بیخي ډېر مراعت وکړي نو وهابي به یې وبولي او زموږ خلک وهابي ته، چي اصلاً یې په معنی نه پوهیږي، د کافر په سترګه ګوري.
فتاوای رحیمیه د شیخ محی الدین ګیلاني د همدغه فتوح الغیب د کتاب د ۵۸ مخ په حواله لیکي: « هر څه چي غواړې هغه له یوه خالق څخه وغواړه. هغه چي ستا غوښتني اوري او ستا آرزو پوره کوي هغه واحد خدای دی. هغه د ټولو پاچاهانو پاچا دی. د ټول مخلوق زړونه او وجودونه د هغه په لاس کي دي. لنډه دا چي څوک پرته له خدایه له کوم ولي یا نبي څخه غوښتنه کوي او په دې عقیده وي چي هغه به یې د زړه مراد پوره کړي دا غلطه او باطله عقیده ده او د اسلامي تعالیمو خلاف ده. . . » فتاوی رحیمیه لیکي څوک چي فکر کوي چي په قبرونو کي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

مړي ژوندي دي او هغوی خپلي مرستي ته رابولي او د یا رسول الله! او یا عبدالقادر ګیلاني! او دغه راز نور نومونه د مرستي غوښتلو په منظور یادوي دا کفر دی. هغه کتاب هغه مخ
دا هغه کتابي او شرعي خبري دي چي د صوفیانو او اولیاوو په عقایدو کي نه لیده کیږي. برعکس، صوفیانو د کراماتو او د قبرونو د زیارتونو او له هغوی څخه د مراد غوښتلو لپاره تبلیغ کاوه او په دې خُرافاتو یې خپل بازار ګرم ساتلی وو.
شیخ محی الدین ګیلاني نه خلکو ته له دنیا څخه د لاس اخیستلو او نه له سهاره تر ماښامه په خلوت کي د کښېنستلو توصیه کوله. پخپله شیخ هم څلور ښځي او هم ډېر زیات اولادونه درلودل او خپل ټول ژوند یې د خلکو په منځ او د دیني علومو په تدریس او نصیحت تېر کړ. البته د هغه له وفات څخه وروسته یې اولادونو او مریدانو، د خپلو شخصي ګټو او امتیازاتو ترلاسه کولو په غرض، د هغه په باره کي داسي افساني جوړي کړې چي نه په عقل د منلو او نه د شریعت په اساس جایزي وې.
جامي لیکي چي د محی الدین ګیلاني مور فاطمه بنت ابی عبدالله صومعي ویلي دي چي کله زما زوی عبدالقادر وزیږېدی؛ هیڅ وخت یې د روژې په میاشت کي شیدې ونه رودلې. او یو ځل د روژې د میاشتي هلال په وریځ کي پټ وو. خلکو د شیخ ګیلاني له مور څخه پوښتنه وکړه هغې ورته وویل چي نن عبدالقادر شیدې نه دي خوړلي. اخر معلومه سوه چي په هغه ورځ روژه وه. جامي، نفحات الانس ص ۵۰۷
البته دا کیسه له جامي څخه څه باندي درې سوه کاله مخکي علي بن عثمان الهجویري د یوه بل لوی شیخ سهل بن عبدالله تستري په کراماتو کي راوړې ده او لیکلي یې دي چي سهل بن عبدالله په هغه ورځ چي له موره وزیږېدی روژه وو او په هغه ورځ چي وفات سو روژه وو. هجویري، کشف المحجوب ص ۴۱۶
داسي ښکاري چي یا پر شیخ ګیلاني باندي د مولنا جامي پېرزوینه زیاته وه او یا دا افسانه، له جامي څخه ډېر پخوا، شیخ ګیلاني ته منسوبه سوې وه او په اصل کي شیخ تستري ته منسوبه وه. په هر صورت د افسانه نه په عقل د منلو ده او نه پر شریعت برابره ده. البته د اولیاوو او صوفیانو ټولي کیسي تر دې عجایبي دي. دلته یې د زیاتو مثالونو د راوړلو لپاره ځای نسته.
مولناجامي، چي د شیخ ګیلاني څخه څه باندي ۳ سوه کاله وروسته ژوند کړی دی؛ نو د ده تر زماني پوري، د شیخ ګیلاني په باره کي دونه افساني جوړي سوي وې چي کتابونه په ډک سوي ول. شیخ جامي لیکي: « یوې ښځي خپل زوی شیخ عبدالقادر ته راووست ویل یې ای شیخه دا یو زوی مي دی غواړم چي ستا تر سیوري لاندي وروزل سي او پر تا باندي یې سپارم. شیخ ورسره ومنله او هغه هلک یې وظیفو ته کښېناوه او ریاضت یې ورباندي کاوه. یو څه وخت وروسته هغه ښځه د شیخ هستوګنځي ته ورغله او ویې لیدل چي زوی یې اوربشینه ډوډۍ خوري او له کم خوراکی او بې خوبی څخه ډنګر سوی او ژړ سوی دی. ښځه شیخ ته ورغله او ویې لیدل چي د شیخ مخي ته یو لوی غوري پروت دی او څنګ ته یې د چرګانو هډوکي پراته دي. ښځي وویل یاشیخه! ته چرګان خوري او زما زوی ته اوربشینه ډوډۍ ورکوې؟ شیخ پر هغه هډوکو باندي لاس تېر کړ او ویل یې قوموا باذن الله الذی یحیی العظام وهی رمیم. پاڅه د هغه خدای په اجازه چي وراسته سوي هډوکي هم بیرته ژوندي کوي. هغه چرګ ژوندی سو او آذان یې وکړ. شیخ ښځي ته وویل هر وخت چي ستا زوی دغه مقام ته ورسېدی ورته ووایه چي زړه یې غواړي هغه وخوري. جامي ص ص ۵۲۰-۵۲۱
تر دې کیسي لا دا عجایبه ده چي وایي شیخ یوه ورځ مجلس راغونډ کړی او وعظ یې کاوه. یو ناڅاپه باران پیل سو او خلک سره تیت سول. شیخ سترګي اسمان ته ونیولې او په ډېر قهر یې وویل یې زه یې راجمع کوم ته یې متفرق کوې؟ د شیخ له دې خبري سره باران ودرېدی او خلک بیرته را ټول سول او له مجلس څخه بهر باران اورېدی. هغه کتاب ص ۵۲۱
« له شیخ عبدالقادر څخه چا پوښتنه وکړه چي د محی الدین د لقب د ایښودلو علت څه وو؟ شیخ ورته وویل د جمعي ورځ وه او له ځینو سفرونو څخه ستړی ستومانه لوڅي پښي بغداد ته ورسېدم. په لاره کي مي یو سړی ولیدی چي رنګ یې ژړ او پر هډوکو یې پوست وچ سوی وو. کله چي زه ورته را ورسېدلم نو پر ما یې ږغ وکړ چي السلام علیکم یا عبدالقادر! د سلام جواب مي ورکړ او ماته یې وویل چي را نیژدې سه. چي ورنیژدې سوم ویل یې ما درپورته کړه. چي راپورته مي کړ رنګ یې کرار کرار سور سو او څېره یې روښانه سوه. ویل یې ودي پېژندلم؟ ما ویل نه. ده ویل زه د اسلام دین یم. تا ولیدلم چي څونه کمزوری سوی وم او کله چي تا راپورته کړم بیرته تازه سوم او خدای تعالی زه په تا ژوندی کړم. ته محی الدین یې ( د دین ژوندی کونکی یې، جهاني) دی مي هلته پرېښود او زه مسجد ته ولاړم. په مسجد کي یوه سړي څپلۍ راته کښېښودې او ویل یې یاشیخ محی الدین او چي هر څوک مي لیدل په همدغه نامه یې خطاب راته کاوه » هغه کتاب ص ص ۵۱۹-۵۲۰
شیخ ګیلاني په یوولسمه او دوولسمه میلادي پېړۍ کي ژوند کړی دی. په هغه زمانه کي اسلام دونه کمزوری سوی نه وو چي پر مځکه دي پروت وي او یو څوک دي هغه له خاورو څخه راپورته کړي. داسی به یې فرض کړو چي دا کیسه ریښتیا ده؛ او د اسلام دین د شیخ له برکته ژوندی وو. که د اسلام مرګ او ژوند د شیخ ګیلاني په وجود او ژوند پوري تړلی وای نو اوس خو د شیخ ګیلاني له وفات څخه څه باندي ۸۵۰ کاله تېر سوي دي. اسلام باید بیخي له منځه تللی وای.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پاړوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

د شيخ يو مريد نكل كاوه چي د جمعې په يوه ورځ له شيخ سره مسجد ته ولاړم. هيچا شيخ ته ونه كتل او سلام يې ورته ونه كړ. زه حيران سوم چي دا ولي. زه په دغه فكر كي وم چي شيخ زما خواته وكتل او ويې مسل. په دغه وخت كي خلكو د شيخ پرلور هجوم راووړ. خلک دونه زيات سول چي زه اوشيخ يې سره ليري كړو. شيخ ماته وويل دا تا پخپله وغوښته. ته پوهېږې چي د خلكو زړونه زما په لاس دي. چي وغواړم له ځان څخه يې وګرځوم راڅخه ليري كيږي او كه وغواړم ځانته يې مايل كړم ټول زما پر لور راځي. هغه كتاب ص ۵۲۱
په داسي حال كي چي د زړونو مالک يو خداى دى؛ او دا قدرت پخپله له حضرت رسول ص سره موجود نه وو او كفار يې د توري په زور يا له منځه وړل او يا يې مسلمانانول. كه څه هم چي دا كيسې د شيخ محى الدين ګيلاني له وفات څخه سل دوه سوه كاله وروسته جوړي سوي او ورپسي تړلي سوي دي او هغه په خپل ژوند كي هيڅ وخت د كراماتو دعوې نه دي كړي. د هغه ليكلي آثار او اشعار پاته دي او په هغو كي د شريعت په خلاف يوه خبره هم نسته. خو له شيخ ګيلاني څخه مخكي او وروسته شيخانو هم د خدايى دعوې كړي او هم يې ځانونه تر حضرت رسول اكرم ص لوړ بلل. په دې ارتباط د شمس او مولنا كيسه دلچسپه ده:
وايى چي شمس الدين تبريزى په ۶۴۲ هـق كي د خپلو مسافرتونو په لړ كي قونيې ته ورسېدى. په قونيه كى يې وليدل چي مولنا جلال الدين رومي د خپلو شاګردانو په مخ كي پرآس يا خره سپور روان وو. شمس يې مخې ته ودرېدى او مولنا ته يې ويل چي اې د مسلمانانو امامه! شمس لوړ دى او كه مصطفى ص؟ مولنا وايي د دې سوال هيبت دونه زيات وو چي ما فكر وكړ چي اووه آسمانه پر مځكه راپرېوتل او زما له باطن څخه يو لوى اور پورته سو او ومي ليدل چي دود يې تر عرش پوري ورسېدى.( ته نو اوس دې لاپو ته ګوره. د شمس د يوه نامعقول او غير اسلامي سوال دونه اغېزه وه چي د مولنا له باطن څخه يې اور پورته كړ او دود يې عرش ته ورسېدى) وروسته مي ورته وويل چى مصطفى ص تر ټولو كايناتو ستر دى. د بايزيد او د هغه مقام څرنګه مقايسه كېدلاى سي؟ شمس وويل نو څرنګه مصطفى ص وويل چي ستاينه دي وى تا خداى لر ه چي لكه څرنګه چي لازمه ده هغسي مي پېژندلى نه يې ( سبحانک ما عرفناک حق معرفتک) او بايزيد وويل چي سبحانى ما اعظم شانى و انا سلطان السلاطين ( ستاينه دي وي ما لره زما څومره لوړ مقام دى او زه د سلطانانو سلطان يم) جامى، نفحات الانس ص ۴۶۶
هغه شمس چي كه يې په ريښتيا هم د ولايت او كراماتو څرګندولو مقام پيدا كړى وي نو هغه به يې د كلمه طيبة او كلمه شهادة له بركته ترلاسه كړى وي. داسي دعوه كوي چى له آدم ع څخه تر حضرت رسول ص پورى هيڅ پيغمبر نه وه كړې او مولنا هم تش د هغه په باره كي د يوه سوال په اثر اور اخلي او دود يې عرش ته رسيږي. د صوفيانو لاپي تمام نه لري او د دغو لاپو اثر دى چي جاهل مخلوق يې قبرونو ته سجدې كوي او د دې پرځاى چي هرڅه له خالق تعالى څخه وغواړي؛ د هغو كسانو له قبرونو څخه يې غواړي چي يا مستقيماً د شرک مرتكب سوي او يا يې مريدانو، پيروانو او ټګانو د خپلو نسونو د مړولو او مړى د غوړولو په غرض كفرونه او معجزې ورپوري تړلى دي.
زموږ ملايان، علماء او مفتيان د دې څرګندو كفرونو په مقابل كي خاموش پاته دي او ريښتوني فتوا ځكه نه سى وركولاى چي هم د جاهلو عوامو له عام ذهنيت څخه بيريږي او هم يې د عوامو په جاهل ساتلو كي ګټه ده. ځكه چي عوام كه هوښيار سي نو بيا له دوى سره پخپله هم حساب كوي او دې ته يې نه پرېږدي چي د ږيري د خريلو په ګناه يې د مرګ حكم صادر كړي او يا پر منبرونو باندي داسى احاديث ورته ووايى چي د حضرت رسول ص مقام ته څرګند سپكاوى وي. مُلا كه ريښتيا هم فتوا وركوي؛ كه لس پنځه لس ټوكه فتاوا ورته ليكي نو بايد چي د د دغه راز څرګند شرک پر ضد فتوا وركړي او د شرک د مركزونو د خرابولو او نړولو امر وكړي.
كه ملايانو د صوفيانو مشهور كتابونه، تذكرةالاولياء، نفحات الانس، كشف المحجوب، اسرارالتوحيد، عوارف المعارف او نور، چي ټول له كفرونو ډک دي، لوستي نه وي نو دوى خو ډېر بېخبره خلک دي. او كه يې لوستي وي او د هغوى پر كفرونو باندي سترګي پټوي نو بيا خو ډېر بېرندوكي خلک دي. د صوفيانو كتابونه ټول، په اصطلاح د اولياءالله، له كفرونو او لاپوشاپو څخه ډک دي.
بايزيد بسطامي وايي: « يو وخت مكې ته ولاړم هلته مي د ډبرو يوه خونه وليده. ما ويل حج مي قبول نه سو ځكه چي ما داسى ډبري ډيري ليدلي دي. بل ځل ولاړم د كورصاحب مي وليدى. ما ويل دا اوس هم د توحيد حقيقت نه دى. دريم ځل ورغلم دا ځل مي د كورخاوند وليدى او كور مي ونه ليدى. هاتف ږغ را باندي وكړ چي اې بايزيده! كه دي خپل ځان نه وي ليدلى او ټول عالم دي ليدلى وي نو مشرک نه وې او كه ټول عالم ووينې او ځان هم ووينې نو بيا مشرک يې. هلته مي توبه وايسته او د خپلي هستى څخه مي توبه وكړه. هجويري، كشف المحجوب ص ۱۳۴
لومړى خو بايزيد كعبه، چي د نړى د ټولو مسلمانانو قبله ده، او پنځه وخته سجده ورته كوي، د ډبرو يوه خونه بولي. دا بې ادبي كه كفر نه وي نو يوه ستره ګناه خو ده. بايزيد له خپلي هستى څخه توبه وايسته. د دې خبري مفهوم څشي دى؟ بايزيد خپل ځان د الله تعالى په وجود كي ورک بولي او په وازه خوله نارې وهي چي له ما پرته بل الله نسته. لااله الّا انا فاعبدوني. پرته له ما بل الله نسته زما عبادت وكړى. دا شرک او الحاد نه دى؟ كوم مُلا يو وخت د بايزيد د تكفيرولو فتوا وركړې ده؟ تر قيامته به دا جرأت وكړي؟ دا ساختګي او جوړي كړي خبري نه دى بلكه د صوفيانو خپل كتابونه وايى او موږ يې مخكي مثالونه وركړي دي.
مولناجلال الدين رومي، چي ايرانيان د هغه مثنوي د پهلوي ژبى قرآن بولي او وايي:
مثنوي معنوى مولوى


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همكارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيكه ټينګه كړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليكنې د ليكنيزې بڼې پازوالي د ليكوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليكنه له راليږلو مخكې په ځير و لولـئ

هست قرآن در زبان پهلوي
په خپل مثنوي کي د بایزید بسطامی د دې وینا څخه، چي ځان یې خدای باله، دفاع کوي او وایی چي بایزید دا خبري په عادي حالت کي نه بلکه د جذبې او له خدای سره د عشق د غلبې ( سُکر) په حالت کي کولې؛ کنه نو بایزید بسطامي د هوښیارۍ ( صحو) په حالت کي هیڅ وخت کفر نه کاوه. سُکر او صحو، د خلکو د غولولو او د خپلو کفرونو څخه د دفاع کولو لپاره د صوفیانو خپله اختراع ده؛ کنه په شریعت کي دا اصطلاحات نسته او د شِرک لپاره هیڅ ډول عذر نه منل کیږي.
شریعت ظاهر مني. په شریعت کي باطن نسته. که څوک کفر وکړي او پر خپله خبره او عقیده ټینګ سي؛ هغه کافر دی او که څوک کلمه طیبه او یا کلمه شهادة ووایی هغه ته هیڅوک مشرک ویلای نه سي.
« اسامه بن زید وایی پیغمبرص موږ ته پر جوهینه باندي د حملې مأموریت راکړی وو او موږ په سهار کي حمله ورباندي وکړه. یو سړی مي ولیدی چي ویل یې پرته له الله بل خدای نسته. ما هغه په نېزه وواهه. وروسته مي یوه ورځ دا خبره پیغمبرص ته وکړه. پیغمبرص پوښتنه راڅخه وکړه چي هغه وویل پرته له الله څخه بل خدای نسته او تا بیا هم هغه قتل کړ؟ ما ورته وویل چي هغه د وژل کېدلو له ویري وویل چي پرته له الله بل خدای نسته. اسامه وایی پیغمبرص وروسته راته وویل چي آیا تا د هغه سینه ورڅیره کړه او د هغه زړه دي وکوت او درته معلومه سوه چي هغه له وېري کلمه وویله؟ پیغمبرص دا سوال دونه تکرار کړ چي ما ویل کشکي مي په هغه ورځ ایمان راوړی وای او تېر ګناهونه او خطاوي به مي معاف سوي وای» صحیح مسلم، کتاب الایمان حدیث ۱۷۶
کشکي زموږ ملایانو د دغه ډول احادیثو په اساس قضاوت او عمل کولای. هم به یې خپل مأموریت، چي د خلکو رهنمایی کول دي، سم سرته رسولی وای او هم به یې مسلمانان د بېځایه شِرک او کفر له فتواو څخه فارغ وای.

پاته لري

[په افغان جرمن آنلاین کي پورتال د لیکوال آرشیف](https://www.afghan-german.de)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ